# په سیمه‌ییزو همکاریو کې د افغانستان د جیوپولیټیک نقش

شېرخان اریال*

*د میرویس نیکه د لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي پخوانی استاد

sheerkhan.arial@gmail.com

لنډیز

افغانستان د آسیا زړه او په وچه کې موقعیت لري چې یاد موقعیت له یولړ ستونزو سره مخ کړی دی، ولې د افغانستان ستراتیژیک موقعیت دا وړتیا لري چې په سیمه‌ییزو همکاریو کې دپام وړ نقش ولوبوي. د څېړنې اصلي پوښتنه: په سیمه‌ییزو همکاریو کې د افغانستان د جیوپولیټیک نقش څه دی؟ چې دڅېړنې په منځپانګه کې ځواب شوې ده. نوموړې څېړنه پدې موخه ترسره شوې چې د سیمې په وصل کې د افغانستان د جیوپولیټیک اهمیت روښانه شي. افغانستان د مرکزي او جنوبي آسیا د وصل د کړۍ په توګه نقش لوبولای شي. دجنوبي آسیا هېوادونه (هند، پاکستان) د اقتصادي پرمختګ په حال کې دي هڅه کوي چې د مرکزي آسیا هېوادونو سره وصل شي چې د یادي سیمې له طبیعي سرچینو څخه برخمن او د خپلو تولیداتو لپاره د یادې سیمې مارکیټ پرانیزي چې ددې لپاره د افغانستان ترڅنګ مرکزي آسیا هم ښه مارکېټ دی. د افغانستان جیوپولیټیک دا وړتیا لري چې یادې سیمې د یو بل سره وصل کړي. افغانستان د سیمې د ترانزیټ د مرکز په توګه مطرح شي او د ځمکې له لارې به جنوبي او مرکزي آسیا سره وصل کړي. د مرکزي آسیا هېوادونه د امنیتي پلوه ډاډه ندي، چې د افغانستان له لورې به نا امني یادې سیمې ته انتقال شي، که له امنیتي اړخه ډاډه شي دا کار کېدونکی دی او افغانستان پکې د پام وړ نقش لوبولای شي، د سیمې هېوادونه باید په یاده پروسه کې په عملي توګه خپله ژمنتیا وښیي.

**کلیدي ټکي**: سیمه‌ییزي همکاری، افغانستان، جیوپولیټیک، جنوبي آسیا، مرکزي آسیا، انرژي.

**Abstract**

Afghanistan is located in the heart of Asia and in the continent, which has faced many problems, but the strategic location of Afghanistan has the ability to play a significant role in regional cooperation. The main research question: What is the geopolitical role

of Afghanistan in regional cooperation? Which has answered in the content of the research. This study was conducted with the aim of clarifying the geopolitical importance of Afghanistan in the connection of the region. Afghanistan can play the role of connecting chain of Central and South Asia. The South Asian countries (India, Pakistan) are in the process of economic development and are trying to connect with the Central Asian countries that benefit from the natural resources of the mentioned region and open the market of the mentioned region for their products. Central Asia is also a good market as Afghanistan. Afghanistan's geopolitics could connect these regions together. Afghanistan will be considered as the transit center of the region and will connect South and Central Asia by land. The countries of Central Asia are not sure from the security point of view that the insecurity from Afghanistan will be transferred to the region. Region Countries must show commitment in practice.

**Keywords**: regional cooperation, Afghanistan, geopolitics, South Asia, Central Asia, energy.

## سریزه

افغانستان چي تر ډېره بریده په وچه کې راګیر هیواد دی او بحر ته لاره نلري په کور دننه او نړیواله کچه له یولړ ستونزو سره لاس او ګرېوان دی ځکه چي په معاصر نړیوال نظام کې بحر ته لاره درلودل یولړ آسانتیاوي له ځان سره لري چي له هغې ډلي یو هم دادی چي د بحر له لاري سوداګري ارزانه او آسانه پرېوځي.

د یادولو وړ ده چي نن سبا په نړۍ کې تېل او نفت د هیوادونو په سیاسي ژوند کې غوره رول لوبوي او دغه طبیعي زېرمي په ډېرو سیمو کې مخ په کمېدو دي او په ننۍ تکنالوژي کې تر ننه د نفت او تېلو بدیل نه دی پیداشوی او د کاسپین چاپیریال هیوادونو کې لا د ګازو ، تېلو او نفتو زېرمي په پراخه اندازه موجودي دي چي د زبرځواکونو د سیالۍ ډګر او نړیوالو کمپنیو ته د پیسو د لاسته راوړلو لپاره ښه سیمه ګرځېدلې ده، افغانستان هم په آسیا کې د ورېښمو د لارې پرسر پروت هیواد دی او د سیمې د هېوادونو او زبرځواکونو دموخو د ترلاسه کولو لپاره د یوې څلورلاري حیثیت لري چي د پخواني شوري اتحاد د له منځه تلو وروسته یې جیوپولیتیکي ارزښت نور هم زیات شوی دی او اوسمهال یې د کاسپین د سیمي ، د شوروي آزادو جمهوریتونو او د هند او پاکستان ترمنځ د شماله تر جنوب پوري د ځمکني ترانزیتي لاري په توګه یو ځانګړی موقف خپل کړی دی. (سردارمحمد رحیمي ۱۳۹۶: ۹۹)

په همدې اساس باید ووایو چي د افغانستان ستراتیژیک موقعیت ارزښت د هېواد جغرافیوي موقعیت او طبیعي زېرمې جوړوي، دا ټولو ته معلومه ده چي افغانستان بېلا بېل منرالونه، اوسپنیزي زېرمې ، یورانیم، مس، دډېره سکاره، لاجورد، زمرد او داسي نورې طبیعي زېرمي لرې همدارنګه افغانستان په نړیواله کچه طبعیي ګاز او تر ځمکې لاندي د تېلو زېرمي هم په پریمانه اندازه لري، د افغانستان د طبیعي زېرمو ارزښت د لسګونو ټریلیونو ډالرو په اندازه اټکل شوی دی چي خلک وایي (هر افغان د سرو زرو پر بالښت سر لګوي). ولي ددې باوجود یو فقیر هېواد دی او ډېری وګړي یې له لوږي سره مخ دي.

افغانستان که څه هم یو په وچه کې راګیر هیواد دی او بحر ته لاره نه لري ترډېره بریده د خپل یاد ستراتیژیک پرېوت(موقعیت) له امله له ستونزو سره لاس او ګرېوان دی. په ۱۹پېړۍ کې دوخت د دوو سترو ځواکونو (تزاري روسیه ، انګلستان ) او د سړې جګړې پرمهال د امریکا او شوروي اتحاد د سیالیو ډګر وو د یو هیواد لپاره چې بحر ته لاره ونلري له ستونزو څخه ډک حالت دی ولې په وچه کې د افغانستان موقعیت له یو لړ امتیازاتو څخه برخمن دی چې کولای شو ووایو چې د مرکزي او جنوبي آسیا ترمنځ دیو ارتباطي پل حیثیت لري او د مهمو هیوادونوسره یې ګاونډیتوب او د مرکزي آسیا او فارس خلیج په حوزوکې د نفتو کشفېدلو وروسته او له یادو سیموسره د اړیکې په نیولو سره نور هم یاد هیواد ته مهم او ستراتیژیک موقعیت وربخښلی دی. (همان، ۱۳۹۶: ۹۹) افغانستان دمرکزي آسیا په حساسه او ستراتیژیکه سیمه کې پروت دی له یوه لوري د هند له نیمې وچې او له بل لوري د منځنۍ آسیا په هیوادونو باندې پېژندل شویو هیوادونو، د چین ولسي جمهوریت او له بل لوري په لویدیځه (غربي)آسیا او منځني ختیځ پوري تړلی دی. (سردارمحمد رحیمي و علي دوست امیري، ۱۳۹۹/۱۰/۲۰- blogsky) چې کولای شي په سیمه ییزه همپالنه ، امنیت، سوداګریزو همکاریو او په ځانګړي ډول د انرژي په لېږد کې مهم رول ولوبوي.

## دڅېړنې ستونزه

دڅېړنې په وړاندې ستونزه داده چې په افغانستان کې په ټولیزه توګه د څېړنې په برخه کې کار نه دی شوی او د څېړنې مرکزونه په ډېره کمه اندازه شتون لري او ددې ترڅنګ د څېړنې فرهنګ هم کمزوری دی بل دا چې په پښتو ژبه په یاده موضوع کې کمې سرچینې شتون لري او کفایت نه کوي. د څېړنې ستونزه داده چې ترډېره بریده چې موږ کومې څېړنې لوستې دي د افغانستان د جیوپولیتیک پکې منفي تصویر وړاندې شوی دی او یوازې دا اړخ یې څېړل شوی دی چې افغانستان د زبرځواکو نو او سیمه‌ییزو قدرتونو د سیالیو ډګر دی ، ولې مثبت اړخ یې پاتې دی چې د افغانستان ستراتیژیک موقعیت د سیمې او نړۍ په وصل کې څومره نقش لوبولای شي ؟ د مرکزي او جنوبي آسیا هېوادونه له کومې لارې له یوبل سره وصل کېدای شي؟ پاکستان او هند د مرکزي آسیا ځمکنیو سرچینو ته څرنګه لاسرسی پیدا کولای شي ؟ د جنوبي آسیا هېوادونه له کومې لارې خپل تولیدات مرکزي آسیا ته انتقالولای شي؟ د ذکر شویو ټولو پوښتنو ځواب دادی چې د افغانستان له لارې دا چارې ترسره کېدای شي نو پرهمدې بنسټ مو وپتیله چې پدې څېړنه کې د افغانستان د جیوپولیتیک هغه امتیازات چې له لارې یې سیمه ییز اتصال رامنځ ته شي روښانه کړو.

## دڅېړنې موخې

اصلي موخه دا ده چې په سیمه‌ییزو همکاریو کې د افغانستان د ستراتیژیک موقعیت نقش وڅېړل شي چې آیا افغانستان یوازې د سیالیو لپاره مهم ده او که په همکاریو کې هم د پام وړ ارزښت لري ، په سیمه کې د هېوادونو موخې څه دي چې باید روښانه شي او افغانستان پکې ترکومې کچې د هغوی په ترلاسه کولو کې نقش لوبولای شي.

**اصلي پوښتنه:** په سیمه‌ییزو همکاریو کې د افغانستان د جیوپولیتیک نقش څه دی؟

**دڅېړنې فرضيې:** ۱- دافغانستان جیوپولیتیک په سیمه‌ییزو همکاریو کې دپام وړ نقش لوبولاي شي. ۲- مرکزي آسیا خپلو سرچینو ته په جنوبي آسیا کې د مارکېټ په لټه کې ده. ۳- دجنوبي آسیا هېوادونه هڅه کوي چې د مرکزي آسیا هېوادونو نفتي سرچینو ته د لاسرسی پیداکړي.

## تېرو څېړنو ته کتنه

پدې برخه کې څېړنې شوې دي چې یو کتاب څېړندوي محمدسرور احمدزي د(افغانستان او سیمه ییزي همکاری، فرصتونه اوننګوني) ترعنوان لاندي په(۹۲)مخونو کې لیکلی دی چې یوه سریزه، پایله، او درې فصلونه لري. پوهنیار فیاض ګل مظلوم یار یوه څېړنیزه مقاله د(په سیمه کې د افغانستان جیوپولیتیکې او جیوایکونومیکې موقعیت ) ترعنوان لاندي په(۱۷)مخونو کې لیکلې ده او د ننګرهار پوهنتون په علمي څېړنیزه مجله کې په ۱۳۹۹هـ ش کال خپره شوې ده ددې ترڅنګ په ګڼو انترنیتي ویب پاڼو کې پدې اړوند لیکنې خپرې شوې دي ولې موږ هم وپتیله چې پدې اړوند د تېرو هغو ترڅنګ یوه بله مقاله هم ولیکو ترڅو د افغانستان د جیوپولیتیک هغه ځانګړنې او اهمیت روښانه شي چې په وسیله یې د سیمې هېوادونه له یوبل سره وصل کېدلای شي او په هغه کې د جیوپولیتیک له نظره په سیمه‌ییزو همکاریو کې د افغانستان اهمیت وڅېړو او ددې سیمې په وصل کولو کې یې اهمیت روښانه کړي. دڅېړنې تګلاره توصیفي تحلیلی ده او ترڅېره بریده پکې له تشریحي میتود څخه هم ګټه پورته شوې ده ترڅو واضح شي چې په سیمه‌ییزو همکاریو کې دافغانستان د جیوپولیتیک موقعیت اهمیت ترکومې کچې پورې دی.

## جیوپولیتیک

د نړۍ په سیاسي او اقتصادي مسایلو کې د جیوپولیتیک او سیاسي جغرافیې ارزښت زیات دی ځکه خو په نړۍ کې هغه هېوادونه چې حساس موقعیت لري د دولتونو پاملرنه یې ځانته جلب کړې ده. دجیوپولیتیک[1] او سیاسي جغرافیې موضوع په تولیزه توګه د جغرافیایي او سیاسي محیط ترمنځ اړیکه څېړل دي. (عبدالرحمن عالم، ۱۳۸۸: ۸۸-۹۰) جیوپولیتیک په کورني او بهرني سیاست کې د پام وړ اغېز لري او دولتي چارواکي په تصمیم نیونه کې دېته مجبوروي ترڅو د خپل هېواد او سیمې جیوپولیتیک په نظر کې ونیسي. دوکتور سردارمحمد رحیمي پخپل کتاب(جیوپولیتیک افغانستان در قرن بیستم) کې جیوپولیتک داسې تعریفوي (جیوپولیتک هغه علم دی چې د جغرافیې، قدرت او سیاست ترمنځ اړیکې او مؤثر عوامل په نوې بڼه د هېوادونو ترمنځ په کورنۍ او بهرنۍ سطحه باندې څېړي)- (سردار محمد رحیمي، ۱۳۹۲: ۵۳) ویلاي شو چې په جیوپولیتیک کې د جغرافیایي محیط عوامل په بهرني سیاست کې د پاملرنې وړ دي معمولا په بهرني سیاست کې حکومتي چارواکي تصمیم نیسي- ولې ناچاره دي چې جغرافیایي عوامل په نظر کې ونیسي او جیوپولیتیک دبهرني سیاست تصمیم نیوونکې پخپله تصمیم نیونه

1. Geopolitics

کې دېته مجبوروي چې جغرافیایي عواملو ته په کتو سره بهرنی سیاست ترتیب کړي. همدارنګه په داخلي سیاست کې هم د اهمیت وړ ده نن سبا په نړیوال سیاست کې د اوبو او نفتو اهمیت فوق العاده زیات شوی دی. دبېلګي په توګه که د هیرمند(هلمند) سیند ته وګورو چې سرچینه یې د افغانستان له خاوري څخه پیلیږي نو د بهرني سیاست ترتیبوونکي مجبور دي چې په نظر کې یې ونیسي- اود خپل بهرني سیاست په ترتیبولو کې د یاد سیند د اوبو مهارول او ګټه ترې اخستل په نظر کې ونیسي- چې د پورته تعریف سره سم دلته د سیاسي او جغرافیایي محیط اړیکه مطرح ده. او افغان دولت کولای شي له همدې لارې د ایران پر دولت فشار راوړي او همدارنګه د ایران دولت هم مجبور ده چې د افغانستان په وړاندي پخپل بهرني سیاست کې همدا مسئله په نظر کې ونیسي او د افغان دولت ملي ګټو، ملکیت او حساسیت ته په کتو خپل بهرنی سیاست د افغانستان په وړاندي ترتیب کړي. ترڅو وکولای شي چې د افغانستان او ایران ترمنځ اړیکې منفي لوري ته ولاړي نشي.

## دجیوپولیتیک په نظریاتو کې دافغانستان ځای

هالفوردمکیندر[۱] دجیوپولیتیک د نظریه ورکوونکیو(نظریه پردازانو) له ډلې څخه دی په ۱۹۰۴ م کال کې یې د لندن په سلطنتي انجمن کې خپله مقاله ولوستله او له دوهمي نړیوالې جګړې څخه وروسته یې د (دموکراتیکو ارمانونو او واقعیت )په نوم پخپل کتاب کې چاپ کړه نوموړي ویلي وو چې د نړیوال سیاست محوري سیمه یوه پراخه سیمه تشکیلوي چې له ختیځي اروپا څخه د سایبریا تر دښتو پوري امتداد پیدا کوي او آسیا، اروپا او افریقا یې نړیواله جزیره وبلله، نوموړی وایې چې یاده سیمه محوري سیمه ده چې د تزاري روسیې له امپراطوري سره تطبیق کیږي ، له یو ستراتیژیک موقعیت څخه برخمنه او له طبیعي سرچینو څخه ډکه ده او دا ناحیه یې د ځمکې زړه نومولی ده او خپل پیژندل شوی اصل یې دا ډول وړاندي کړی دی. (څوک چې په ختیځه اروپا باندي واکمن (حاکم) وي د ځمکې په زړه واکمن دی او څوک چې د ځمکې پر زړه واکمن وي د اورآسیا په نړیواله جزیره باندي واکمن (حاکم) دی او څوک چې د اورآسیاپه نړیواله جزیره باندي واکمن (حاکم) شي په نړۍ باندي واکمن دی). (پایگاه خبری حوزه: ۱۳۹۹/۱۰/۲۰) د نوموړي په نظر د ځمکې زړه هغه سیمه ده چې له شمال څخه شمالي منجمد اقیانوس او له جنوب څخه د همالیا غرونو ته رسیږي، لویدیځ ته د والګا سیند (رود) او له ختیځ څخه د مغولستان، افغانستان او ایران ځینو برخو ته رسیږي. دافغانستان تاریخ چې له لوړو او ژورو څخه ډک دی او د وخت لویو ځواکونو په یاد هېواد باندې یرغلونه کړي دي تردېره بریده د ګران هېواد د جیوپولیتیک اهمیت وو، چې د سترو ځواکونو د لېوالتیا (دلچسپي) وړ ګرځېدلی وو. په اتلسمه پېړۍ کې د افغانستان جیوپولیتیک اهمیت زیات شو، چې د وخت د دوه سترو ځواکونو(انګلیس، تزاري روسیه) ترمنځ د سیالیو ډګر وګرځېدی دارنګه په شلمه او یوویشتمه پېړۍ کې هم د سترو ځواکونو(امریکا، روسیه) د پاملرني وړ هېواد وو، چې تردېره بریده د افغانستان جیوپولیتیک د نوموړیو

---

۱. Hal ford Mackinder انګلیس جغرافیه پوه وو چې د ځمکې زړه نظریه یې مطرح کړه.

ځواکونو د علاقې وړ دی اوپه سیمه او نړۍ کې د سترو ځواکونو په موخو کې مهم رول لوبولی شي. مکیندر چې د ځمکني ځواک نظریه یې وړاندې کړه او دځمکې په زړه (اورآسیا) یې ولکه په ټوله نړۍ ولکه وبلله او افغانستان چې د هارتلند[1] یوه مهمه برخه ده طبعآ د سترو ځواکونو د پاملرنې وړ وګرځېدی او وخت په وخت سترو ځواکونو په افغانستان باندې د ولکې او یاهم د اشغال هڅې پیل کړې.

امریکایې لیکوال سپایکمن[2] د مکیندر د هارتلند له نظریې څخه په اقتباس د ریملنډ[3] نظریه وړاندې کړه چې د نوموړې نظریه د وچې او اوبیزو سیمو یوځای کېدنه ده نوموړی وایې چې که څوک په یاده سیمه واکمن شي نو داسې مانا لري چې ګواکې هم په سمندرونو او هم په وچه واکمن شو په نوموړې سیمه کې وړوکې آسیا[4]، سعودي عربستان، عراق، هند، جنوب ختیځه آسیا، چین، کوریا او افغانستان هم د ریملنډ په سیمه کې شامل دی. . . افغانستان د سپایکمن په نظریه کې د ریملنډ مهمه برخه ده په همدې بنسټ د سترو ځواکونو د سیالیو شاهد دی. (Peaceweekly:22/10/1399 ) دسپایکمن د ریملنډ نظریه دمکیندر د هارتلند دنظریې په پرتله د اهمیت وړ پدې ده چې په نننۍ(معاصر) نړیوال سیاست کې چې د اقتصاد او سوداګرۍ(تجارت )برخه غالبه ده د بحر له لارې د سوداګریزو توکو او انرژۍ د لېږد لپاره آسانه او ارزانه تماميږي. دیوویشتمې پېړۍ په پیل سره چې په نړیوالو اړیکو کې د اقتصاد اهمیت زیات شو نړۍ یو بل نوي پړاو ته دننه شوه او جیواکانومیک[5] او اقتصادي ځواک د پوځي ځواک ځای ونیوی او د انرژیکې سرچینو پرسر د هېوادونو ترمنځ سیالۍ د جیوپولیتیک له رایجو مسایلو څخه ګڼل کېدې، ستر ځواکونه اوهغه هېوادونه چې تازه د صنعتي کېدو پر لور روان و زیاتې انرژۍ ته یې اړتیا درلوده ترڅو خپلې صنعتي چارې مخته یوسي او ددې ترڅنګ د انرژۍ د لېږد لارې هم مهمې دي ترڅو هېوادونه خپله د اړتیا وړ انرژي د لګښت لپاره خپلو هېوادونو ته ورسوي. هغه هېوادونه چې د انرژۍ سرچینې لري او ترڅنګ یې د هغو هېوادونو اهمیت هم زیات شو چې د یادو هېوادونو د انرژۍ په لېږد کې آسانتیاوې رامنځ ته کوي، چې افغانستان هم له خپل ستراتیژیک موقعیت څخه په یاده برخه کې په زیاته پیمانه ګټه پورته کولای شي اوپه سیمه ییزه او نړیواله کچه د وصل د یوې مهمې کړۍ په توګه خپل رول لوبولای شي نو ویلای شو چې د سیمه‌ییزو او نړیوالو ځواکونو لپاره افغانستان پدې د اهمیت وړ دی چې کولای شي له لارې یې د سیمې انرژي ته آسانه لاسرسی ولري او ترڅنګ یې خپلو تولیداتو ته مارکېټ پیدا کړي. داسې انګېرل کېږي چې امریکا هم د افغانستان له جېوپولیتیک څخه ابزاري

---

1.Heartland

۲. Spykmanد نړیوالو اړیکو تیوریسن او د امریکا متحده ایالاتو تبع وو .

3. Rim land

٤. وړوکې آسیا د شمال لورته توري بحیرې شمال ختیځ ته ګرجستان اوپه جنوب کې یې د مدیترانې سمندر او لویدیځ ته یې د اژه سیند پروت دی.

5. Geo Economic

ګټه پورته کوله او غوښتل یې چې لدې لارې د مرکزي آسیا په هېوادونو باندې ولکه ترلاسه کړي او د روسیې سره یې اړیکه پرې او په نړیواله کچه د غرب په پلوې وهڅوي.

## افغانستان د سیمې د وصل د مرکز په توګه

افغانستان که څه هم په وچه کې را ګیر هېواد دی او بحر ته لاره نلري چې له امله یې له یو لړ ستونزو سره مخ دی او نشي کولای د بحر له لارې له سیمې او نړۍ سره وصل شي، ولې پردې سربېره د افغانستان جیوپولیتیک دا وړتیا لري چې د وچې له لارې جنوبي آسیا له مرکزي آسیا او ان له اروپا سره وصل کړي او وکولای شي چې د سیمې د اتصال د مرکز په توګه رول ولوبوي پرهمدې بنسټ د افغانستان جیوپولیتیک د نړیوالو او سیمه‌ییزو ځواکونو لپاره د اهمیت وړ دی.




د جنوبي آسیا هېوادونه غواړي د افغانستان له لارې له مرکزي آسیا سره وصل شي. هند چې د جنوبي آسیا یو له مهمو اقتصادي ځواکونو څخه شمېرل کیږي، غواړي د چابهار د نوي تأسیس شوي بندر په ژرتر ژره تجهیز سره له سیمې ، مرکزي آسیا او په تېره له اروپا سره خپلو سوداګریزي اړیکوته د وچې له لارې پیوند ورکړي(محمدبشیر دودیال، Taand-۱۴۰۱/۷/۲۵) او دارنګه پاکستان هم غواړي ځان له مرکزي آسیا سره ونښلوي. انرژي چې د اقتصادي ودې او هوساینې لپاره بنسټیز عنصر ګڼل کیږي د جنوبي آسیا مخ پر وده هېوادونه د خپل اقتصادي ځواک د زیاتولو او هوساینې لپاره انرژي ته ډېره اړتیا لري او یاد هېوادونه د انرژي له ناورین سره مخ دي. تردېره بریده د مرکزي آسیا د انرژي سرچینو د ترلاسه کولو په تمه دي او غواړي چې د اړتیا وړ انرژی له یادو هېوادونو څخه وارده کړي. هند د جنوبي آسیا د ستراقتصادي ځواک په توګه د خپل ځواک او اقتصادي پرمختګ لپاره په زیاته پیمانه انرژي ته اړتیا لري او غواړي چې د یادي موخې د ترلاسه کولو لپاره د انرژي اړتیا پوره کړي. هند په کور دننه د انرژي سرچینې نلري او که وي هم په لږه اندازه دي. د هند ٦٪ بومي اوسېدونکي خپله د اړتیا وړ انرژي له دودیزو(سنتي) سرچینو څخه لاسته راوړي او څرنګه چې ویل کیږي کېدای شي چې په ۲۰۳۰ م کال کې د نړۍ په کچه د انرژي لوی مصرف کوونکی هېواد وي. (محی الدین نوری، ۱۳۹٦) بنأ هند د خپل

اقتصادي ماشين د خوځنده ساتلو لپاره له بهر څخه وارداتي انرژي ته اړتيا لري ترڅو وکولاي شي د خپل اقتصادي پرمختک لپاره بنسټونه يقيني کړي. ددې تر څنګ ځمکنۍ سرچينې چې په انساني ژوند کې د پام وړ اهميت لري او يادي سرچينې په ټوله نړۍ کې يوشان ندي وېشل شوې، نو هېوادونه مجبور دي چې د اړتيا وړ سرچينو ته لاسرسی پيدا کړي پر همدې اساس له نورو هېوادونو سره اړيکې جوړوي او يادي اړيکې بېلابېل شکلونه خپلوي چې ډېرى وختونه په نړيواله کچه د ټکر رامنځته کېدو لامل کيږي. په يويشتمه پېړۍ کې چې په نړيوال سياست باندي اقتصاد غالب دی نو د هغو سيمو چې تر ځمکې لاندي سرچينې لري او هم د هغو سيمو چې يادو سرچينو ته په لاسرسي کې آسانتياوي رامنځته کوي اهميت زيات شوی دی. افغانستان که څه هم په وچه کې را ګير هېواد دی ولي جيوپوليتيک يې ددې وړتيا لري چې په نفتي سرچينو مالامال سيمو ته په لاسرسي کې آسانتياوي رامنځته کړي. افغانستان د جيوپوليتيک په نظرياتو کې د زيات اهميت څخه برخمن دی. افغانستان د هارتلند او ريملند نظريو کې د اهميت وړ دی چې په نړيوال سياست کې د هېوادونو په ستراتيژيو کې د پام وړ اهميت لري ، ددې ترڅنګ افغانستان کولاي شي مرکزي او جنوبي آسيا سره وصل کړي ، د جنوبي آسيا هېوادونه چې د انرژي له بحران سره مخ دي غواړي د افغانستان له لاري د مرکزي آسيا انرژي ته آسانه لاسرسی ولري او دارنګه غواړي خپل توليدات د مرکزي آسيا مارکيټونو ته ورسوي. ددې ترڅنګ د مرکزي آسيا هېوادونه هڅه کوي چې خپلو نفتو ته مناسب مارکېټ پيدا کړي پدې هڅه کې دي چې د افغانستان له لاري خپل نفتي صادرات جنوبي آسيا ته ورسوي ولي يوه ستونزه چې دلته ليدل کيږي هغه دادی چې د مرکزي آسيا هېوادونه او روسيه د افغانستان په وړاندي جېوپوليتيک ليدلوری لري پدې معنی چې فکرکوي د افغانستان له لوري به مرکزي آسيا ته ناامني انتقال شي خوپردې سربېره هڅه کوي د افغانستان له لاري خپلو انرژيکې صادراتو ته د جنوبي آسيا د مارکيټ دروازې پرانيزي نو ويلای شو چې د مرکزي او جنوبي آسيا هېوادونه د انرژي د امنيت له بحران سره مخ دي چې يو لوری نفتو ته اړتيا لري او بل لوری غواړي خپلو نفتو ته مارکيټ پيدا کړي او د روسيې له نفوذ څخه ځان خلاص کړي. افغانستان هم د مرکزي آ سيا په وړاندي جيوايکانوميک ليدلوری لري ترڅو وکولاي شي د مرکزي آسيا له انرژي او برق څخه برخمن شي ولسمشر محمداشرف غني دخپلي واکمني په دوره کې د افغانستان بهرنی سياست ترډېره بريده په اقتصادي همکاريو باندي وڅرخوی او د افغانستان لپاره يې په اقتصادي او امنيتي برخه کې زيات لومړيتوبونه درلودل، نو د يادو هېوادونو د وصل چاره د افغانستان له لاري ترسره کېداي شي په همدې اساس د افغانستان د ستراتيژيک موقعيت اهميت هم زيات دی چې ياد هېوادونه هڅه کوي چې په افغانستان کې امن وي ترڅو خپلي ګټې خوندي کړي. دارنګه افغانستان هم د ځمکې لاندي طبيعي زېرمې لري چې د ډېرو سکاره، ليتيم، زمرد، مس او الما سو نومونه د يادولو وړ دي ، چې د افغانستان جيو ايکانوميک موقعيت هم د جيوپوليتيک موقعيت په پرتله کم او زيات د اهميت وړ دی چې دلويو او سيمه‌ييزو ځواکونو(قدرتونو )د لېوالتيا وړ ګرځېدلی دی. امريکا هم پدې هڅه کې وه چې د افغانستان له لاري د مرکزي آسيا او سيمې سرچينو

ته لاسرسی پیدا کړي او یاد هېوادونه د روسیې له نفوذ څخه خلاص کړي او دارنګه تحلیل داده چې امریکا د افغانستان له جیوپولیټیک څخه ابزاري ګټه پورته کوله ترڅو د مرکزي آسیا طبیعي سرچینو ته لاسرسی پیداکړي.

## مرکزي آسیا

دمرکزي آسیا هېوادونه(تاجکستان، ترکمنستان، قزاکستان، ازبکستان، قرغزستان) په ټولیز ډول د هارتلنډ په سیمه کې موقعیت لري او د تاریخ په اوږدو کې د زبرځواکونو او سیمه‌ییزو ځواکونو د پاملرنې/ علاقې وړ وو اوس چې نړیواله سوداګري پراخه شوې ده او ورځ تر بلې نړۍ د نړیوالتوب پرلور روانه ده د مرکزي آسیا اهمیت نور هم زیات شوی دی ځکه چې یاده سیمه په پرېمانه کچه ځمکنۍ سرچینې(تېل، ګاز، هایدرو کاربن او اوبیزه برېښنا) لري. په تاریخي لحاظ نوموړې سیمه د روسیې/شوروي اتحاد یوه برخه وه چې ترډېره بریده د زبرځواکونو له منازعاتو څخه خوندي وه او پدې سیمه کې د غیرسیمه‌ییزو ځواکونو ښکېلتیا د یوې ستړي او پراخې جګړې زمینه برابروله ، روسیې هم په خپل ټول توان سره له خپل هېواد او په ځانګړې توګه د ځمکنیو سرچینو له همدې مخزن څخه دفاع کوله. د سړې جګړې د پاې ته رسېدو سره د مرکزي آسیا اهمیت نور هم په نړیوال سیاست کې زیات شو او دلته اصلي عامل هم د شوروي اتحاد له منځه تلل او په روسیه بدلېدل وو چې زبرځواکونو داسې انګېرله چې روسیه نور په کور دننه له ستونزو سره لاس او ګرېوان ده نو پرهمدې اساس له سړې جګړې وروسته زبرځواکونه او سیمه ییز ځواکونه هم ترډېره بریده پوري د یادي سیمې سرچینو د لاسته راوړلو لپاره هڅې کوي، دا هېوادونه د جنوبي آسیا دوه مهم هېوادونه (هند، پاکستان) چې په کور دننه انرژۍ نلري او ددې سیمې انرژي ته اشده اړتیا لري ترڅو په کور دننه اړتیاوې پوره او د خپل اقتصادي ماشین څرخ خوځنده وساتي په همدې اساس یاد هېوادونه غواړي د افغانستان له لارې د مرکزي آسیا سره ونښلي او خپلې اقتصادي موخې ترلاسه کړي. ددې ترڅنګ د مرکزي آسیا هېوادونه هم په سیمه کې ځانګړې موخې لري او غواړي خپلو موخو ته ورسیږي ، دا موخې پدې توګه یادولای شو چې مرکزي آسیا هېوادونه خپلو سرچینو ته د مارکېټ په لټه کې دي چې یاد مارکېټ یې جنوبي آسیا انتخاب کړې ده او له دې مارکېټ سره د افغانستان له لارې په آسانه توګه یوځای کېدلای شي. (شېرخان اریال، ۱۳۹۹: ۵۲-۵۳)

په ټولیز ډول ویلای شو چې جنوبي آسیا د انرژۍ له بحران سره مخ ده او نشي. کولای خپله د اړتیا وړ انرژي له کورنیو سرچینو څخه پوره کړي تر څو وکولای شي د صنعتي کېدو په لور چټک ګامونه واخلي او ددې سیمې دوه سیال هېوادونه چې په هراړخیزه توګه د یوبل په وړاندې سیالي کوي غواړي په اقتصادي، نظامي او. . . برخو کې د یوبل څخه وړاندې شي هغه هند او پاکستان دي چې دواړه کولای شي د افغانستان له لارې له مرکزي آسیا سره وصل شي ، د انرژۍ ترڅنګ هند او پاکستان هڅه کوي د خپلو تولیداتو په وړاندې د مرکزي آسیا د مارکیټ دروازې پرانیزي. د مرکزي آسیا هېوادونه د انرژۍ د مارکېټ له بحران سره مخ دي او هڅه کوي چې خپله انرژي نړیوال او سیمه ییز مارکېټ ته ورسوي ، چې دواړه لوري (مرکزي او جنوبي آسیا) د افغانستان له لارې کولای شي د یوبل سره وصل شي نو پرهمدې بنسټ ویلای شو چې په سیمه‌ییزو همکاریو کې د افغانستان نقش د اهمیت وړ دی.

### لومړی: هند

هند د جنوبي آسیا مهم اقتصادي ځواک دی او غواړي چې په لنډمهال او اوږدمهال کې په سیمه کې یو لړ سیاسي او اقتصادي پرمختګونه وکړي، پرهمدې بنسټ په مرکزي آسیا کې یو لړ موخې لري چې په ترلاسه کولو سره به یې یاد هېواد د یو سیمه ییز اقتصادي هژمون ځواک په توګه راڅرګند شي او یادې موخې یې په لاندې توګه یادولای شو.

- داقتصادي موخو لپاره د مرکزي آسیا د انرژي جذب: مرکزي آسیا له جیوپولیتیک او جیوایکانومیک اړخه په سیمه کې مهمه نقطه ګڼل کیږي، نوموړې سیمه د نړۍ د ټولو طبیعي سرچینو ۱۳ په سلو کې لري چې له هغه ډلې قزاکستان د ۵۹۰-۹۴۰ کېلوګرامه یورانیم لري ، ازبکستان د نړۍ په کچه د یورانیمو دریم لرونکی هېواد دی، تاجکستان او قرغزستان دبرق(بریښنا) غني سرچینې لري او دارنګه ترکمنستان تر دامهاله په سیمه کې په کلنۍ ډول د۳۶۰ زرو مترمکعبه ګاز د تولید ظرفیت لري. (محمدغنی عمار، ۱۳۹۷ هشت صبح ورځپاڼه) هند د خپل اقتصادي رشد ، په سیمه کې د سلطه غوښتونکو موخو او نفوس په درلودلو سره د نړۍ په کچه د انرژي څلورم مصرف کوونکی هېواد ګڼل کیږي نو ددې لپاره چې په سیمه ییز اقتصادي ځواک باندې بدل شي غواړي د مرکزي آسیا د انرژي سرچینو ته په لنډمهال کې لاسرسی پیدا کړي. هند په ۲۰۱۲م کال د مرکزي آسیا سره د اتصال سیاست(India's Connect Central Asia Policy) غوره کړ ترڅو وکولای شي په مرکزي آسیا کې خپلې اقتصادي موخې ترلاسه کړي او پرمټ یې خپله د اړتیا وړ انرژي له یادې سیمې څخه ترلاسه کړي او ترڅنګ یې په یاده سیمه کې خپلو تولیداتو ته بازار پیدا کړي. په ۲۰۱۵م کال کې له مرکزي آسیا سره د هند تجارت له دوه میلیارده ډالرو څخه زیات و، ولې د هند او مرکزي آسیا تاریخي اړیکو ته په کتوسره دا حجم کم وو د تجارت د حجم د کموالي لامل دا وو چې مرکزي آسیا ته د هند لاسرسی له ستونزو سره مخ وو، هند له دریو لارو څخه له مرکزي آسیا سره نښلیږي چې یو یې پاکستان دی چې ددې هېوادونو ترمنځ د سنتي او تاریخي شخړو له امله وخت ناوخت له ستونزو سره مخ و. دوهمه لاره د افغانستان وه چې په افغانستان کې د ناامنیو له امله له یادې سیمې سره اتصال له ستونزو سره مخ دی او دریمه لاره د ایران ده چې یاده لاره څه ناڅه امن ده (wwwislamtimes. ۲۱/۷/۱۴۰۱) چې یاده لاره د ایران په قلمرو کې امنه او د افغانستان په قلمرو کې هم دا مهال د نسبي ډاډ وړ ده او هند کولای شي له مرکزي آسیا سره خپلې اقتصادي اړیکې لدې دریو لارو څخه پیاوړې کړي. د هند مشران د سیمې د هیوادونو تر منځ دمواصلاتي لارو اړوند اوږدمهاله لیدلوری لري، ځکه خو نوی ډیلی هیله لري چې د چابهار بندر په یوه مهم او نړیوال بندر بدل شي تر څو د افغانستان او د مرکزي آسیا سره ټوله راکړه ورکړه د دغه ستراتیژیک بندر له لارې تر سره شي. (ParsToday. com/ps/ir)

- په ملي امنیت پوري د اړونده ستونزو له منځه وړل: په مرکزي آسیا کې سخت دریځي، د نشه یي توکو او وسلو ډېروالی د خپل ملي امنیت په وړاندي جدي خطر ګڼي او پدې اړه اندېښنې لري. (جمال الدین نجم؛ ۱۳۹۹: ۱۰۵)

او غواړي په سیمه ییزه کچه ددغو درې واړو مخنیوی وکړي ترهګري ډلي له دې امکاناتو څخه د هند تر ولکې لاندي کشمیر کې ګټه پورته نه کړي او د هند ملي امنیت لـه ګـواښ سره مـخ نشي. ځکـه ترډېـره بریده پوري پاکستان غواړي چي اسلامپالي ډلي د هند په وړاندي د یو ابزار په توګه وکاروي او هند ته په کور دننه ، پولو او سیمه کې ستونزي را پیدا کړي. هند د یادو فعالیتونو د مخنیوي لپاره د مرکزي آسیا له هېوادونو سره امنیتي همکاری کوي ترڅو وکولاي شي ترخپلې ولکې لانـدي کشمیر کـې امنیـت تـأمین کړي هند پدې باور دی چي په مرکزي آسیا کې د ترهګرو ډلو وده او پـه خـانګړې ډول هغـه ډلي چـي د هند په شمال ختیځ او کشمیرکې فعالیت او نفوذ لري ددې هېواد د امنیت او سیمه‌ییزو ګټو پـه وړانـدي جدي خطـر دی د بېلګـي پـه توګـه هنـد دخپـل قلمـرو د بانـدي پـه ۱۹۹۶م کـال پـه تاجکسـتان کـې د فرخور(Farkhor) په نوم پوځي اډه جـوړه کـړې ده دغـه راز یـې لـه ازبکسـتان او قزاکسـتان سره ګـډې امنیتي کاري ډلي جوړي کړې دي. په ۲۰۱۱م کې یې له قرغزستان سره دنظامي زده کړو او د یاد هېواد د پوځیانو د روزلو لپاره د یوه ګډ پوځي څېړنیز مرکز د طرحي په جوړولو کار پیل کړی و او هغه یې بشپړه کړې ده (همان، ۱۳۹۹: ۱۰۶) ددې ترڅنګ هند د مرکزي آسیا له نورو هېوادونو سره هم پـوځي همکـاری کړې دي چي له هغې ډلي څخه ازبکستان هېواد یادولای شو چي په یاده برخه کې هند د خپلو موخـو د ترلاسه کولو لپاره په ډېر احتیاط سره ګام پورته کوي. ددې ترڅنګ هند په سیمه کې د چین او پاکستان سره سیالي پیل کړې ده او غواړي د یو سیمه ییز هژمون ځواک په توګه مطـرح او وکـولاي شي د مرکـزي آسیا سرچینو ته تر چین او پاکستان وړاندي لاسرسی پیدا کړي.

مرکزي آسیا ته د هند د رسېدو مهمه لاره د چابهار بندر لاره ده چې کولای شي لـه یـادې لارې څخـه لـه مرکزي آسیا سره خپله سوداګري زیاته کړي او خپلې ستراتیژیکې اقتصادي او سـیاسي ګټـې پـه مرکـزي آسیا کې ترلاسه کړي، نومورې لاره په سیاسي لحاظ هم د هند لپاره د اهمیت وړ ده ځکه په سـیمه کـې د هند، چین او پاکستان ترمنځ د سیمه ییزي هژمـوني پـرسر هـم سـیالي روانـه ده دا لاره د افغانسـتان څخـه تېریږي پر همدې بنسټ د افغانستان د جیوپولیتیک ارزښت هـم ورسره دوه برابـره کیـږي او افغانسـتان کولاي شي له دې لارې د کال په زیاته پیمانه د ترانزیټ پیسې ترلاسـه کـړي او دا پـه هغـه صـورت کـې کېداي شي چي په افغانستان کې جګړه مهار شي او د امریکا پـه وتلـو سره د اوس لپـاره جګـړه هـم څـه ناڅه مهار شوې ده ولي بیاهم د مرکزي آسیا هېوادونو مشران د افغانستان له لوري د خپل مـلي امنیـت پـه اړه زیاتي اندېښنې لري. د تاجکستان ولسمشر په یوه بیانیه کې ویـلي چـي د افغانسـتان سره پـر پولـه مـو تأسیسات جوړ کړي دي او نور به یې هم زیات کړو ځکه چي په یاد هېواد کې اوس هم په زیاته انـدازه ترهګر شته دی. دا چي په راتلونکې کې به وضعیت څه ډول وي؟دې پوښتني ته کېداي شي د وخت په تېرېدو سره د قناعت وړ ځواب وویل شي.

## دوهم: پاکستان

پاکستان د جنوبي آسیا د مهم او دوهم زیات نفوس لرونکې هېواد پـه توگـه د جنـوبي آسـیا د مـخ پـر ودي هېوادونو له ډلې څخه دی او په کور دننه انرژي ورته بسنه نه کوي اوسمهال د انرژي له بحران سره مـخ دی او غواړي د اړتیا وړ انرژي له بهر څخه وارده کړي. نړیوال بانک وړاندوینه کړې وه چـې پاکسـتان به په ۲۰۱۷ م کال کې په جنوبي آسیا کې دوهم لوی اقتصادي ځـواک مطرح شي ، پاکستان پـه ۲۰۱۷م ، ۲۰۱۵ اوپه ۲۰۱۸م کې ۵، ۱۵٪ په ۲۰۱۹م کې ۸، ۱۵٪ په سلوکې اقتصادي وده ممکن وکړي. ولې د پاکستان نننی وضعیت د نړیوال بانک وړاندوینه تر پوښتنې لاندې راولي، په پاکستان کې د برقي انـرژي کمښـت په کال کې ۱۳ میلیارده ډالر د یاد هېواد اقتصاد ته زیان اړوي.(محی الدین نوری، ۱۳۹۶: ۹۲-۹۳)

پاکستان د مرکزي آسیا سره د اتصال لپاره زیاتې هڅې کوي تر څو وکولای شي د یادي سیمې لـه طبیعـي سرچینو څخه برخمن شي ځکه په کور دننه کومې سرچینې چې لري د پاکسـتان لپـاره پـه کـافي انـدازه ندي او ددې هېواد اړتیاوې نشي پوره کولای. نو پرهمدې بنسټ هڅه کوي له یادې سیمې سره د ځمکې له لارې وصل شي. ددې لپاره چې له مرکزي آسیا سره وصل شي باید د افغانستان له جیوپولیتیـک څخـه گټه پورته کړي ځکه لدې لارې د پاکستان لپاره آسانه ده چې نوموړې سیمې ته لاره پیدا کړي. پاکستان تر ډېره بریده د فارس خلیج هېوادونو په انرژي بانـدې تکیـه کـوي. (Hashmat Ullah Khan & Muhammad manzoor Elahi-2016) د افغانستان لـه لارې د تاپي او کاسا۱۰۰۰پـروژو پـه بشـپړېدو سره بـه افغانسـتان او پاکستان د کال په میلیونو ډالره ترانزیټ ترلاسه کړي تاپي گاز نللیکه چې د (۲۰۰۰) کېلومتره په شاوخوا اوږدوالـی لـري، لـه ترکمنسـتانه بـه دافغانسـتان لـه لارې پاکسـتان او بیـا هنـد تـه ځـي. ددې نللیکـې (۸۰۰)کېلومتره به دهېواد له لوېدځو ولایتونو هرات، کندهار، فراه او هلمند لـه لارې بلوچسـتان څخـه تـر تېریدو وروسته، دوه شاخه شي چې یوه به یې پاکستان اوبله به یې هند ته کش شي. (AFGHAN TIPS - BELGIUM) پاکستان به په کلنې ډول هند ته له ترکمنستان څخـه د لېږدېـدونکې گـاز ترانزیـټ ترلاسـه کړي او هم به له یاد گاز څخه پخپله برخمن شي ددې ترڅنگ د پاکستان په هغو سیمو کې چې د تاپي پروژه تېریږي ددې سیمې په زرگونه کسان به پرکار شي. (وحید نوشېر bbc. com/Pashto -.)

پاکستان له مرکزي آسیا سره د وصل کېدو لپاره درې لارې لري چې په لاندې ډول ترې یادونه کولای شو.

**الف:** له سالنگ څخه کابل ته تېرېدونکې لاره چې له هغه ځایـه جـلال آبـاد، پېښـور او لـه هغـه ځایـه کراچۍ او گوادر ته تللې لاره ده.



**ب:** له تاجکستان څخه تر بدخشان پوري لاره چې دا لاره بیا ترپېښور او له هغه ځایه کراچۍ او ګوادر ته رسیږي.

**ج:** د قراقروم لویه لاره، د کاشغر(چین) دا لاره د ګیلګت څخه کراچۍ او له هغه ځایه ترګوادر پوري رسیږي. (Hashmat Ullah Khan & Muhammad manzoor Elahi-2016)

پاکستان له مرکزي آسیا سره په وصل کېدو برسېره پردې چې په کوردننه د انرژي اړتیاوي پوره کړي کولای شي دیادي سیمې نفت نړیوالو بازارونو ته ورسوي ځکه چې د ایران د هورمز تنګی له لاري د عمان له بحر سره چې نږدې فاصله لري وصل شي. بنأ د پاکستان لپاره نوی انتخاب دادی چې د واخان دهلېز له لاري له مرکزي آسیا سره وصل شي او خپلې اقتصادي موخې ترلاسه کړي. پاکستان غواړي د چین په مرسته د واخان دهلېز له لارې له مرکزي آسیا سره وصل شي چې ددې موخې د ترلاسه کولو لپاره باید له افغانستان سره هوکړې ته ورسیږي ځکه د چین سنکیانګ ایالت د افغانستان د بدخشان ولایت د واخان له لوړي څوکې سره په پرپوله پروت دی، پاکستان دې موخې ته رسېدل غواړي ولې ددې په بدل کې افغانستان غواړي چې د کراچۍ بندر له لار له نړیوالو اوبو سره وصل شي او له یوې خوا خپل صادرات له همدې بندر څخه نړیوالو بازارونو ته ورسوي او ترڅنګ یې واردات هم د همدې لارې پوره کړي، اما ستونزه دادی چې پاکستان له افغانستان سره پدې برخه کې همکاري نه کوي نو پاکستان هم نشي کولای خپلي یادي موخی ته ورسیږي.

ددې ترڅنګ پاکستان غواړي خپلو تولیداتو ته د مرکزي آسیا مارکیټ پرانیزی او وکولای شي خپل تولیدات د مرکزي آسیا مارکیټ ته ورسوي ترڅو د افغانستان ترڅنګ د خپلو تولیداتو په وړاندي د مرکزي آسیا مارکیټ هم په واک کې ولري له همدې کبله هڅه کوي چې چې یاد مارکېټ ته لاسرسی پیداکړي.

**مناقشه**

افغانستان د آسیا په زړه کې پروت هېواد په توګه د اهمیت وړ دی، پرهمدې بنسټ د زبرځواکونو او سیمه‌ییزو ځواکونو د سیالي د مرکز په توګه مطرح دی. دا چې د یو مقتدر حکومت نه شتون د څو لسیزو لپاره یاد هېواد د جګړو شاهد ګرځولی و. د تېر جمهوریت په وخت کې هم د سیمه‌ییزو همکاریو لپاره هڅې ګړندۍ ساتل شوې وې ولي ستونزه دا وه چې دلته عملا جګړه روانه وه او په وړاندي یې موانع ایجادولې نو پرهمدې اساس د سیمه‌ییزو همکاریو نظر او هڅې عملي نه شوې او یاهم کمې عملي شوې. د اسلامي امارت په واک ته رسېدو سره جګړه کمه شوې ده او یو فرصت منځته راغلی ده ترڅو د افغانستان بهرنی سیاست د سیمه‌ییزو همکاریو پرمحور باندي وڅرخي دا ځکه چې دواړه لوري(مرکزي ، جنوبي آسیا) ددې لپاره ډېري هڅې کوي چې د یوبل سره وصل شي او خپلې موخي ترلاسه کړي. پدې اړوند د اسلامي امارت دریځ هم قاطع دی او غواړي افغانستان د سیمې په ترانزیټ باندي بدل کړي چې د ثبوت لپاره موږ ددې یادونه کولای شو چې د تاپي پروژې د عملي کار د بیا پیل غوښتنه د اسلامي امارت له لوري شوې ده، اما تر اوسه پوري پیل شوې نده. ولې ستونزه داده چې د مرکزي آسیا هېوادونه ترډېره

بریده د جیوایکانومیک لیدلوري ترځنګ د افغانستان په وړاندې جیوپولیتیک لیدلوری هم لري او پدې وېره کې دي چې د افغانستان له لوري به د یادو هیودونو امنیت اوثبات له تهدید سره مخ شي نو دلته د باور جوړوني یوې پروسې ته اړتیا لیدل کېږي ترڅو د مرکزي آسیا هېوادونه ډاډ ترلاسه کړي چې امنیت یې خوندي دی پدې صورت کې افغانستان د سیمې د وصل د یوې کړۍ په توګه مطرح کېداې شي. کـه پاکستان په افغانستان کې خپل بهرنی سیاست د همکاري پر بنسټ طرح کړي، له سیالي څخـه لاس فغا واخلي او ستراتیژیک عمـق پالیسي- پرېـږدي، د هنـد لپـاره دا زمینـه برابـره کـړي ترڅـو دپاکسـتان او افغانستان له لارې له مرکزې آسیا سره وصل شي کېداې شي د سیمه‌ییزو همکاریو نظریه په عمل کې پلې شي. ددې ترڅنګ په کار ده چې د افغانستان بهرنـی سیاسـت د سیمه‌ییزو اقتصادي همکـاریو پراسـاس ترتیب شي چې تر ډېره بریـده پـوري همـداسې هڅـې کيـږي نـو پـه هغـه صورت کـې بـه افغانسـتان د سیمه‌ییزو همکاریو د مرکز په توګه مطرح شي چې افغانستان او سیمه به ترې زیاته ګټـه پورتـه کـړي. د سیمې هېوادونو ترمنځ د آزاد تجارت تړون نور هم له دې پروسې سره مرسته کولاې شي.

## پایله او موندني

افغانستان د آسیا په زړه کې پروت هېواد په وچه کې راګیر دی چې له امله یې له یـولړ سـتونزو سره مـخ دی او نشي کولاې بحر ته لاره ومومي ولي ددې ترڅنګ د ګران هېواد جیوپولیتیک یو لړ امتیازات هـم لري چې کولاې شي د وچې له لارې سیمه سره وصل کړي نو د خپل حساس او ستراتیژیک موقعیـت پـه درلودلو سره د تاریخ په بېلابېلو دورو کـې د زبرځواکونـو د سـیالیو ډګـر پـاتې شـوی دی. دجیوپولیتیـک تیوریسنانو پخپلو نظریو کې د ایروآسیا د سیمې مهـم غـړی بللـی دی. د افغانسـتان سـتراتیژیک موقعیـت کولاې شي په سیمه‌ییزو همکاریو کې مهم نقش ولوبوي او جنوبي آسیا له مرکزي آسیا او له منځني ختـیځ سره وصل کړي چې په وړاندې یې فرصتونه او ننګوني شتون لري که له فرصتونو یې اغېزمنـه ګټـه پورتـه شي دا واضح ده چې د سیمه‌ییزو همکاریو د مرکـز پـه توګـه یـې نومـولاې شـو. سـیمه ییـزي همکـاری د دولتونو په ارادو او هڅو پوري اړه لري چې کېداې شې په سیمه ییزه کچه د امنیتي او اقتصادي همکاریو زمینه برابره کړي خو دا چاره دې ته اړتیا لري چې د سیمې هېوادونه خپلو ګټو ته د یوبـل لـه ګټـو سره بافت ورکړي او د فراملي ګټو په لټه کې ګام پورته کړي چې پدې کار سره کولاې شي خـپلې مـلي ګټـې هم ترلاسه کړي. تر ډېره بریده پوري دولتونه په سیمه ییزه او نړیواله کچه غواړي خپلې ملي ګټې ترلاسه کړي او په نړیوال نظام کې د دولتونو د لوبېدو یوازینۍ انګېزه هم ملي ګټې دي. افغانسـتان د جنـوبي او مرکزي آسیا ترمنځ د ارتباطي پل حیثیت لري که د افغانستان په محوریت سیمه‌ییزي همکاری پراختیـا ومومي له یوې خوا به د کال په زیاته اندازه د ترانزیټ پیسې ترلاسه کړي او هم به په هغو سیمو کې چې د ګازو نللیکې او د برېښنا مزي تېرېږي په زرګونو خلک په کار وګمارل شي. ددې څېـړنې مونـدني پـه لاندې توګه ذکر کولاې شو.

۱- د سیمې هېوادونو تـرمنځ د آزاد تجـارت تړونونـو پراختیـا سـیمې تـه ثبـات راوړي او ترڅنـګ یـې هېوادونه په ځان بسیا کوي ترڅو هوسا ژوند او پرمختللی اقتصاد ولري. د سیمه ییزتوب یـوه انګېـزه هم د تجارت پراختیا او د ګټو وېش دی.

۲- د جنوبي او مرکزي آسيا د وصل لپاره افغانستان زيات اهميت لري او بې له افغانستان څخه دا چاره ناممکنه او يو خيال دی نو د سيمې هېوادونو ته په کار ده چي د افغانستان په سوله اوثبات کې يوبل ته لاس ورکړي ترڅو وکولاي شي خپلې ګډې ګټې خوندي کړي.

۳- د افغانستان د جيوپوليټيک او ستراتيژيک موقعيت اهميت روښانه شو چي نه يوازي د زبرځواکونو او سيمه‌ييزو قدرتونو ترمنځ د سياليو په ډګر باندې پېژندل کېږي بلکې کولاي شي د سيمې او نړۍ په وصل کې فوق العاده نقش ولوبوي او د سيمې هېوادونو ګټې له يوبل سره ونښلوي.

۴- دسيمه‌ييزو همکاريو نظريه چي ترډېره بريده پوري دکاغذ پرمخ پاتي وه اوس کولاي شي نوموړې نظريه په واقعيت بدله شي چي نه يوازي د افغانستان ګټې خوندي کړاي شي ترڅنګ يې د سيمې هېوادونو ګټې هم خوندي کېږي او جنوبي او مرکزي آسيا هېوادونه له همدې لارې سره وصل کېداې شي.

## وړانديزونه

۱- د جنوبي آسيا، مرکزي آسيا هېوادونو ترمنځ د افغانستان په محوريت د آزاد تجارت تړون لاسليکول ترڅو وکولاي شي د يوبل سره وصل شي او په پايله کې يې ټول اړخونه د پام وړ ګټې ترلاسه کړي دا تړون به داسي وي چي هېوادونه ورته په صحيح ډول ژمن پاتي شي بې له دې تړونونه کومه ګټه نلري چي د عمل بڼه خپله نه کړي.

۲- دافغانستان په بهرني سياست کې د سيمه‌ييزو اقتصادي همکاريو ځاي پرځاي کول او له ګاونډيو هېوادونو سره دوستانه اړيکې پالل ترڅو يې له لاري د ترانزيټ په مرکز بدل شي.

۳- د پاکستان هېواد دې ته اړ ايستل چي د سيمه‌ييزو همکاريو په برخه کې افغانستان ته زمينه برابره کړي چي د کراچي بندر ته لاره پيدا کړي نه داسي چي پاکستان دې مرکزي آسيا ته د افغانستان له لاري لاسرسی ولري او افغانستان ته دې آسانتياوې نه برابروي.

۴- اسلامي امارت ته اړينه ده چي په سيمه‌ييزو سازمانونو کې فعاله نقش ولري او د سيمه‌ييزو همکاريو پراختيا ته غړي هېوادونه وهڅوي، دارنګه د ډيپلوماسي په دستګاه کې د مسلکي کسانو ګمارل چي د ډيپلوماسي په ژبه پوه وي ترڅو په عملي بڼه سيمه ييزي همکارۍ پراختيا ومومي.

۵- د باورجوړوني لپاره ګړندۍ هڅې کول ترڅو دسيمه‌ييزو همکاريو په برخه کې شته ستونزي ، ابهامات له منځه لاړ شي، او غړو هېوادونو ته ډاډ ورکول چي په امنيتي برخه کې هم د يوبل سره همکاري صورت نيسي او هيڅ کورني او بهرني مخالف ته اجازه نه ورکول کيږي چې د هېوادونو خاوره د يوبل په ضرر وکاروي.

## اخذليکونه


- اریال شېرخان (۱۳۹۹) په افغانستان کې د امریکاحضور او د ایران او روسیې غبرگونونه. د نړیوالو اړیکو د ماستري تیزس، دعوت پوهنتون، کابل.
- رحيمي، سردارمحمد (۱۳۹۲) ژئوپليتيک افغانستان درقرن بيستم، کابل انتشارات سعيد.
- رحيمي، سردارمحمد (۱۳۹۶) ژئوپليتيک افغانستان درقرن بيستم. کابل. نشر واژه. چاپ شوم.
- عالم، عبدالرحمن. (۱۳۸۸) بنيادهاي علم سياست، چاپ بيستم، انتشارات سمت، تهران، ايران.
- عمار، محمدغنی (۱۳۹۷) جایگاه جیوپولتیک افغانستان در روابط هند با آسیای میانه، هشت صبح ورځپاڼه.
- نجم جمال الدين (۱۳۹۹) د هند او ازبکستان په اړیکوکې د افغانستان جيوپوليتيک ارزښت. دسيمه‌ييزو مطالعاتومجله، اوله او دوهمه گڼه، کال د علومو اکاډمي کابل افغانستان.
- نوری محی الدين (۱۳۹۶) موقعيت ستراتيژيک افغانستان وتأمين امنيت انرژی فراهماليا. فصلنامه ديپلوماسی و مطالعات بين المللی. مؤسسه تحصيلات عالی افغانستان. سال دوم ، شماره چهارم.
- سايت‌ها
- سردارمحمد رحيمي و علي دوست اميري، ژئوپليتيک کشور افغانستان ، تاريخ دسترسي ۱۳۹۹/۱۰/۲۰. لينک https://geo-af. blogsky. com/1390/03/23/post-3/
- پايگاه خبری حوزه: نگاهی به نظريه های ژئوپوليتيک. تاريخ دسترسی ۱۳۹۹/۱۰/۲۲ لينک https://hawzah. net/fa/Article/View/
- هفته نامه صلح: جايگاه ژئوپوليتيک افغانستان در استراتيژی های قدرت های بزرگ. تاريخ دسترسی ۱۳۹۹/۱۰/۲۲. لينک https://peaceweekly. com/
- هفته نامه صلح: جايگاه ژئوپوليتيک افغانستان در استراتيژی های قدرت های بزرگ. تاريخ دسترسی ۱۳۹۹/۱۰/۲۲. لينک https://peaceweekly. com/
- دوديال. محمدبشير افغانستان و جيوپوليتيک و جيواکونوميک منطقه. تاند، به مناسبت تدوير کنفرانس منطقوی برای افغانستان، لينک: ۲۵/۷/۱۴۰۱www. Taand. com
- آسيای مرکزی درسياست خارجی هند، اهداف و برنامه ها. ۲۱/۷/۱۴۰۱. wwwislamtimes. org. fa. com
- د مرکزي اسيا او هند په متقابل تجارت کې د چابهار د بندر رول، لينک Pars Today. com/ps/ir
- ولسي پرسيمې اونړۍ دافغانستان ستراتيژيک موقعيت اغېزيAFGHAN TIPS – BELGIUM –
- وحيد نوشېر. د افغانستان لپاره د ټاپي پروژې گټې. www. bbc. com/pashto


### انگليسي


- Hashmat Ullah Khan & Muhammad manzoor Elahi, Pakistan Economic Interests in Central Asia: Prospect & Challenges in Regional Perspective, 24, Central Asia Journal, Winter,2016.